# د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین ملا محمد ناصر آخند ژوند لیک

ملا محمد ناصر اخند د بهادر خان زوی او د لعل محمد لمسی په ۱۳۵۳ هـ ش کال د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ په فیضو کلا کې زېږېدلی دئ.

**زده‌کړې**

ملا محمد ناصر آخند خپلې دیني زده کړې د خپل کلي (فیضو کلا) د مسجد له هوجرې څخه راپیل کړې او د غزني په بېلابېلو جماعتونو کې ئې خپلو لومړنیو زده کړو ته دوام ورکړی، بیا د نورو زده کړو لپاره لومړی د کوټې ښار ته تللی او هلته یې په مختلفو مدرسو کې زده‌کړې کړې او تر هغه وروسته پېښور ته تللی، هورې یې درې کاله تېر کړې او د پېښور دارالعلوم چهارصدې کې یې زده‌کړې کړې دي. د افغانستان اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پر مهال بیرته هیواد ته راغلی او دلته ئې خپلو زده کړو ته دوام ورکړی، خو د وخت او حالاتو د جبر او غوښتنو په وجه نه دی توانېدلی چې د دیني زده کړو سند تر لاسه کړي.

**ژبې**

ښاغلي ملا محمد ناصر آخند پر خپله مورنۍ ژبه سربېره په فارسي ژبه هم رواني خبرې کولای سي.

**دندې**

۱ - ملا محمد ناصر آخند افغانستان ته د روسانو له راتګه بیا تر وتلو پورې د هغوی په وړاندې جهاد کړی؛

۲- د لوی ملا صاحب (امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد) امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور او امیرالمؤمنین شیخ ملا هیبة الله اخندزاده په امر ئې د شل کلن اشغال پر مهال د هیواد په بېلا بیلو ولایتو کې دندې ترسره کړې او د امریکایي اشغال په وړاندې ئې فعاله ونډه لرلې ده.

**خدمتونه**

۱. د اسیرانو د تبادلې کمیسیون جوړول: مخکې تر دې د افغانستان اسلامي امارت، افغان حکومت او بهرنیو ځواکونو تر منځ د تبادلې داسې یو میکانیزم نه وو چې په توسط ئې د بندیانو تبادله سوې وای، خو ملا محمد ناصر آخند په خپل تیز فکر وکولای سوه چې د اسیرانو د تبادلې کمېسیون جوړ او عملي بڼه ورکړي.

۲. د حاجي ملا محمد ناصر آخند په مشرۍ د امارت د ولایتي کمېسیونونو جوړول، چې لومړی ئې په غزني ولایت کې جوړ سو او بیا په نورور ولایتونو کې.

۳. په لومړي ځل اقتصادي کمېسیون په (۱۹) ولایتونو او د هغو په درېیو حوزو (شمال، جنوب او مشرقي) کې جوړول او په مټ ئې د ډېرو عوایدو لاسته راوړل.

۴. په ننګرهار ولایت کې د منصور صاحب په هدایت د داعشیانو په مقابل کې اووه میاشتې پرلپسې د جنګ رهبري، د هغوی کنترول، نورو ولایتونو ته د هغو د تګ مخنیوی، له هغو سیمي نیول او د هغو مخه ډب کول یې د جهادي کارنامو یوه بېلګه ده.

**آثار**

۱. سل تحفې (دیني معلومات) لومړی ټوک (چاپ)؛

۲. سل تحفې (د اسماء الحسنی خصوصیات) دویم ټوک (چاپ)؛

۳. سل تحفې (دیني معلومات) درېیم ټوک (چاپ)؛

۴. سل تحفې (دیني معلومات) څلرم ټوک (تر چاپ لاندې)؛

۵. سل تحفې (دیني معلومات) پنځم ټوک (ناچاپ)؛

٦. سل تحفې (دیني معلومات) شپږم ټوک (ناچاپ)؛

۷. سل تحفې (دیني معلومات) اووم ټوک (ناچاپ)؛

۸. سل تحفې (دیني معلومات) اتم ټوک (ناچاپ).